# د شیشو لرې غورزول

یوازې هغه شیشې د سپینو، نسواري او شین رنګو ځانګړو چټل دانیو کې باید واچول شي چې د شیشو څو وارې مصرف د سیستم له لارې د بیا جوړیدو وړ نه وي.

**د شرابو او د میوو جوس بوتل**

**د کنسروا او مربا بوتل**

***د غوړو، سرکې، جامو او د خوړو موادو بوتل***

**د روغتیایي موادو ښیښې، شامپو او نور**

**له دې پرته:** آسماني، تورې او سرې بوتلې هم کولای شئ پرته له کومې ستونزې د ښیښو شنې
چټل دانۍ کې واچوئ.

**پاملرنه:** د بوتلو پوښ او پیچې سرونه کولای شئ له بوتل سره یوځای ځانګړې چټل دانۍ ته واچوئ. په مهربانۍ د بوتل پوښونه د چټل دانۍ پرمخ یا پر ځمکه ونه غورځوئ.

## د بیلګې په توګه له یاد شویو موادو څخه یو یې هم د ښیښو چټلدانیو ته وانه اچول شي

سرامیک، ښاورین لوښی، ډبرین یا چیني لوښی، آینه، د شدارو ښیښې یا ګروپ، دغه راز د اور ضد ښیښې یا لوړې تودوخې پروړاندې مقاوم (جنیر یا پایرکس) هم باید د ښیښو په چټلدانیو کې ونه غورځل شي، بلکې د متفرقې چټلدانیو کې واچول شي. دلیل: دغه ښیښې د ښیښو ویلې کولو په معمولي کورو کې نه ویلې کیږي او د بیا رامنځته کوونکې ښیښې ناخالصې کوي.

## هغه ښیښې چې باید د ښیښو په چټلدانیو کې وانه اچول شي، ه کوم ځاې کې وغورځول شي؟

دغه ښیښې باید متفرقه چټلدانیو کې وغورځول شي.

**توصیه:** د ښیښو یا د آینې قاپونه په یوه کاغذ کې راونغاړئ او یا یې واړه کړئ. وروسته دغه میده ښیښې په متفرقه چټل دانۍ کې وغورځوئ.